# بدیع او بیان

## محمدسرور وکیلي

کتاب پیژندنه :

د کتاب نوم : بدیع او بیان
لیکوال : محمدسرور وکیلي
د لیکني کال : ۲۰۰۷ م ع ـــ ۱۳۸۷ هـ ش
د لیکني ځای : جرمنی
ترتیب کونکی : محمدسرور وکیلي
بدیع او بیان
مؤلف : محمد سرور« وکیلي»
کال میزان ۱۳۸۷هـ ش

لیکلړ

سرلیك مـــخ

شعر د ادب له مخې ۱
یوه عمومي ادبي تاڅو ۲
د بدیع او بیان پوهه ۸
د شعر چوکاټ بندي او ډولونه ۹
ابهام او التفات ۹
تشبیه ۱۰
تجنیس ۱۳
سجع یا مسجع ۱۵
تلمیح ۱۶
ارسال المثل او تحریف ۱۷
مراعات نظیر ۱۸
لف او نشر ۱۹
حسن تعلیل ۲۱
سرلیك مـــخ

Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



مثنوي ۳۹
د شعر ترتب اوتنظيم ۴۱
قافيه ۴۱
رديف ۴۲
تقطيع او افاعيل ۴۴
د پښتو لنډۍ ۴۵
بحر ۴۶
بتر او خز م ۴۷
نقد او خزل ۴۸
مبلغه، اغراق، غلو ۴۹
د دو شاعرانو شعرونه يو له بل سره پرتله كول ۵۰
وېليك ( نثر) ۵۲
افهام او تفهيم ۵۳
وړليك يا مسجع نثر ۶۳
د پښتو په ادب كښې كيسه ۶۷
شعري داستان - متلونه او اصطلاحګاني ۷۲
اصطلاح ۷۳
اخځونه ۷۵

سرليك    مــخ

توارد ۲۲
حكايت ۲۳
تركيب بند ۲۵
ترجيع بند ۲۷
مرثيه ۲۸
معما او قطعه ۲۹
اتساع او حشو ۳۱
مستزاد ۳۲
عروض ۳۳
نظم او غزل ۳۳
قصيده ۳۵
مصراع او حماسه ۳۶

(c) ketabton.com: The Digital Library



رباعي ۳۷
مدح ۳۸

ا

بسم الله الرحمن الرحيم

ادب او شعر يا بدله

ادب په عربي ژبي کي د ګڼې نوم دی او لغوي معنی ئي پوهه، کلتور، دود، کړنلاره اوښه کړنه ده.

ادب هغه علم يا پوهې ته وايې، چې سړی وکولاې شي، يو شعر يا يوه ليکنه يا يوه موضوع ښه وليکي او يا ښه بيان شي. د ښې وينا او يا ښې ليکني توپيرد عادي ليکني اوعادي وينا څخه وسي او يا يې د يو بل څخه جلا کړاي شي، نو له دې کبله ادب او ادب پوهي ته اړتيا ليدل کيري.اديبان، ژبپوهان، ليکوالان دغه پوهنه په صرف ( ګړپوهه)، نحوه (ويپوهه) ، غياث الغت (ګړبنسود) اشتقاق (جلاوالی)، معاني، بيان، بديع، عروض او دغسي نورو کې شامله بولي. دغه ټولې پوهي او

(c) ketabton.com: The Digital Library



ب

ادب پوهي اديبان او ليكوالان تكميلوي. ښـه شعر ليكي او ښـه نثر ليكي او يا ښـه بيان كوي .

ژبه او شعر

ژبه تر ژبښـود (ګرامر ) ډېره لومړۍ ده، يعنې ورسته ترژبي د خبرو ژبښـود راغلی دی. لپاره د دې چې سم ليك او لوسـت وكړو، نوداسـي ښـكاري چې د ژبي ژبښـود، ګړښـود او ژب پوهني ته اړتيا ليدل كيږي.

هره مورنۍ ژبه، كه څه هم د ژبي بنسـټ جوړه وي او ورځني كلتوري او ټولنيزو اړتياوي بشـپړه وي، خو د ښـه ليك او ادبي مضمون د ليكلو لپاره بسـنه نه كوي.

څرنګه چې ليدلكيږي شعر هم تر موروني ژبي ورسـته دی. شعر ټولنيز بنسـټ لري. شعر له ډېر پخوا نه د ج

مېنانو پټ راز، د زړه خواله او د ميني راز د خپلي محبوبي سره وو.

طبعي شاعران له ډېر پخوا څخه په ټولونو كښـې موجود وو. دغو شاعرانو ښـاغلو ځلميانو ته، غښـتلو جنګيالانو ته او مېړنيو ته بدلي ( شعرونه ) ويلي دي .

وروسته چې ليك او لوسـت رواج شـو شعر په چوكاټ كښـې د بديع اوبيان راغی يعني شعر ادب سـو، پوهه سوه او يو ادبي غټ اړخ يې داديبانو په منځ كي راپيداكی. يو اديب شاعر كه يو ښـه شعر واي، يايې

(c) ketabton.com: The Digital Library



ليکي نو ضرور دی، چې دی دي د بديع او بيان او
عروض قانونوته او پرنسيپوته غاړه کښېږدې. يو شعر
هله ښه شعر دی، چې موزون وي او قافيه يې سمه او
محتواې اوچته وي. او که نثر ليکي هم دغسي ادبي
د
ښايست ولري او لرونکې دعالي محتوا وي. دغسي
نثرونه چې اديبان يې ليکي لکه د ملغلرو هار يې چې
سره پيلی وي. نوپه دغسي ادبي ليکونو کې ليك ښود،
ګړښود، ګړپوهنه، ويپوهنه، او ليك دود ښېله شکه بايدپه
نظر کښې نيوله سوي وي. دغسي ليکني د ژبې د
پراختيا لپاره ډېر حتمي او ضروري دي.
ليك او ليك ښود سره نوك او ووري دې. دغه رنګه
قافيه لرونکی شعر ښېله بديع اوبيان اوعروض د
مراعات کولو څخه به ښه شعر نه وي.د هر شاعراو
اديب وينا به شعر نه وي ځکه شعر قافيه، رديف او
وزن لري. څرنګه چې ترمخ وويل سوه د اديبانو او
شاعرانو خبري د ژبې دپرمختګ، پراختيا او منطقي
کيدلو لامل ګرځي .
هـ
ليکنه پخپله او مورنۍ ژبه پراختيا مومي او هم
د پرديو ژبو د اړتيا څخه وزي. ښه شعر منظم او موزون
وي او د عروضو اصول پکښې په پام کې نېوله سوي

(c) ketabton.com: The Digital Library



وي. دلتـه د دو شاعــرانو شــعرونه د مثال په توګه

راو لم. لکه د رحمان بابا شعر او حميد ماشو خېل

شعر: د رحمان بابا شعر

ګـوره هســـې کـردګــار دی رب زمـا

چې صاحب د کل اختيار دی رب زما

د حميد ماشوخېل شعر

نازه ولی زوي مي نه اخلي ادب

د ســيوري نخـل نه نســي رطب

و

سريزه

د يوه کتاب ليکنه په څوډوله امکان لري:

لمړی) يو ليکوال د خپل ځانه پر يوه موضوع کتاب

ليکي او يا شعر واي، دغه کتاب ليکنه پر يوه معينه

موضوع او ياد شعر ټولګه يې ددغه ليکوال تأليف دی.

دويم) يو ليکوال ديوي موضوع لپاره د نورو کتابو

څخه موضوګاني راټوله وي او يو نوی کتاب ليکي. و

دغه ليکني ته د کتاب، ليکوال نوې ښکلا بل رنګ او

خوند ورکوي او نوي شيان پکښې ور ډېره وي ، چې د

کتاب محتوا ور اوچته کړي. د کتاب دغسي ليکني ته

د ليکوال تصنيف واي

.دريم) تجروبوي يا پروژه ئي راټول سوي شيان دي،
ز

چې دليکوال له خوا پردغي تجروبې اويا پروژې باندي

(c) ketabton.com: The Digital Library



شخصي ليکلنه وکړي. و دغي ليکني ته تجروبوي يا
ايمپري ليکنه واي. چې دليکوال خپله تجروبه ښه يې.
او دغسې نوري ډېري ليکني.
دغه ليکل سوی دبديع اوبيان کتاب، چې دنوروکتابو،
رسالو او خپرونو څخه راټولي سوي موضوعګاني دي،
چې د ليکوال نظريات هم پکښې شامل دي،يوتصنيفي
شکل لري.دغه د پښتو د بديع او بيان کتاب په نوي
سيستم سره ليکل شوی دی. دلوستونکي لپاره ډېر
کاراسانه کوي، چې ډېر ژرد شعر او ادب سره مخامخ
شي او هلته د شعر او ادب په ګلستان کښې رنګا
رنګ ګلونه وسپړي او دبڼ په شنو چمنونو کښې
د ادب د مرغانو ږغونه اوآوازونه واوري او د خيالونو
ح

په نړۍ کښې ډوب او دشعر په بحر کې
ولامبي.
د شعر دخيالي دنيا څخه ادبي ګلان را ټالۍ کړي.
ددغه کتاب د ليکني مقصد د شعر پېژندنه او د شعر
دډولونو او توکونو زده کول دي. دغه هدف وو چې
دغه کتاب و ليکل شو. په درنښت
د ليکوال له خوا
١

شعر د ادب له مخي
شعر ته په پښتو کښې بدله واي
.شعر يوه عربي ګړه ده، چې لغوي مانا يې موزون يا

(c) ketabton.com: The Digital Library



منظومې وينا ته واي. شعر يا بدله هغي وينا ته واي،چې
وزن، قافيه او نظم ولري، چې په پاړسي کې ورته
سرود ويل کيږي. لکه د خوشحال خان دغه شعر:
شيخ دې نمونځ روژه کا زه به ډکي پيالې اخلم
هر سړی پيدادی خپل خپل کارلره کنه
شعرپخپله يو هنر دی، منظومي خبري دي، چې په دوه
ډوله يې يو شاعر درلوداي سي. يو ډول يې طبعي دی،
چې شاعر دشعر طبع لري اوروان شعر واي ياني
طبعي شاعر وي. او بل يې کسبې شاعردی، چې دغه
ډول شاعر د خپل ادبې ځواك څخه كار اخلي شعرونه
٢
جوړه وي او اصلاح کوې يې تر څوچې شعر ښه پختيا
ته ورسي. ودغه شاعر ته کسبي شاعر واي.
کسبي يا ادبي شاعر هر وخت ښه شعر نه سو ويلای.
دغسي شاعران چې په ټولنه کښې ښکلا، ناسم تيا،
عدالت يا بې عدالتي، ظلم، ښه والی د زمانې، بد مرغي
د زمانې و ويني او د دغه څخه شاعر اغيزمن سي او
يوازي ناست وي نو قلم راواخلي شعر واي .
و دغه رنګه شاعرانو ته زه هم قلمي شاعران وايم.
يوه عمومي ادبي تابلو
د شعر، ادب، وينا، رسامي، فلم، نقاشي، تخنيك، طبعي
علوم، سندرغاړي دټولو دغو استعدادونو په سر کښې
هنر پروت دی. هنر بيا پر دوو برخو ويشل کيږي، چې

(c) ketabton.com: The Digital Library



۳
يوه برخه يې طبعي او بله برخه يې كسبي يا مصنوعي

ده. طبعي اړخ يې دلته نه ګورو، ځكه چې هغه په انسان

كې پروت يو استعداد دى.

دلته يې خاص كسبي يا مصنوعي اړخ د هنر ګورو او

وېش يې كوو. كسبي اړخ د هنر ډېر زيار ايستل

غواړي، چې هنر لاس ته راوړه سي او تقريبا طبعي

سي. تابلوګورو!

هنر

لاسي فكري

رسامي، مجسمه سازي، انجنيري شعر، وينا، نثر، تفسير

ږغي بدني

سندري، راګ،آواز سپورت، رقص، اكروباتيك

ټول آلات د موسيقې او فلم موسيقي

۴
د تابلو څخه داسي ښكاري، چې شعر د

هنر يوه فكري

څانګه ده، چې انسانانو ته خداې (ج) ور بخښلى دى.

زه دلته شعر د ادب او هنر له تخنيكي نظره څېړم.

مګر دلته د شعر حقيقي او واقعي معني په لنډه توګه

بيانوم او پراخه بيان يې و نورو ادب پوهانو ته پرېږدم.

څرنګه چې ترمخ وويل سوه، د شعر طبعه لرل طبعي

اويا كسبي وي. په ډېره پخوا زمانو كښې چې ليك او

لوست نه وو او انسان هم طبعي وواو خپل ژوند يې په

(c) ketabton.com: The Digital Library



طبعي او ساده ډول ترمخ بيوه، دغه اوسنی شعر په
هغه وخت کې هم طبعي بڼه لرله. شعر به هغه چا وايه،
چې يا يې طبعي د شعر طبعه لرله او يا به مين سوی
وو. مين او مېني به خپلې خبري په رمز او زمزمه سره
منظومي يو و بل ته سره رسولې .
۵
دغه منظومي خبري د عاشقانو په منځ کې لکه يو شفر
چې تېريږي د رمز په توګه به يو بل ته سره رسېدی.
په عين حال کې به دغه شفر چې شعر وو، سوزناکه،
دردناکه، بېلتونواکه او خونداور به هم وو.
هغو چې شعري طبعه لرله هاغو هم شعرونه ويل، خو
د مېنانو د شعر د محتوا سره يې توپيرلاره. د دغو
مينانو شعرونه لکه د ادم خان او درخانئ، ښادې
اوبېبو، مومن جان او شېرينو او دغسي نور ډېر،
سوزناکه وو. ځرنګه چې پخوا ليك اولوست نه وو نو د
دغو مېنانو نقلونه کېدل او ددوي شعرونه به دنارو په
ډول ويل کېدل. يانې دغه نقلونه د سېنې څخه و سېنې
ته ورتله او دنسلو څخه و نسلو ته پاته کېده.
کله چې دليك او لوست هنر منځ ته راغی شعر ځان ته
۶
بل مفهوم غوره کی بله معنې يې پيدا کړه. منظم سو
پوره هنر سو او پوهه سوه.
شعر او شعر ويل په شاعر پوري د ده په سوز او

(c) ketabton.com: The Digital Library



ګداز، په اندېښنو، په همت او مقام پوري اړه لري او

بيا د شاعرد ټولني په چاپېريال او فضا پوري اود شاعر

په زمان پوري اړه لري. لنډه ئي دا چې شعر په زمان،

مکان، د شاعر په ټولنه او د شاعر په
خرنګواله

پوري اړه لري . لوړ همت والا شاعر پخپل مدح او

قصيده کې تر حقيقت او واقعيت نه تېرېږي.او هيڅکله

مدحه نه کوي.د با احساس لوړمقام شاعر شعرونه تل

د ګدازه ډك وي. زړه وړونکي وي. د عالي شاعر

شعرونه د محتوا او معني ډك وي، لوستونکي اديبان په

فکر کښې غرقه وي . د لوړ مقام شاعر شعر داسي دی

۷
لکه د ملغلرو د غاړې هار، چې په ډېر نقش او نګار

سره پېل سوی وي او د ښايستې ښکلې پيغلي په

غاړه وي . د خواړه شاعر شعر هم دغسي خوندور وي .

خو معاصر شعر، نوی شعر، نيمه يا شعر نما چې هم

ورته واي، نه قافيه لري او نه رديف اونه منظوم دی . نو

و دغسي يوي ليکني ته شعر بيخي نه سو ويلای، ولې

چې شعر موزون، منظوم او توري يې لکه مرئ سره پيل سوي

دي . خو په نوي شعر کې دغه لطافت نه ليدل کيږي او نه اروېدل

کيږي . نوی شعر خبري دي، چې د يو له بله سره تړلي دي، نو ځکه

(c) ketabton.com: The Digital Library



شعر نه دى. فرهنگيان او اديبان دي و دغه ادبي ليکني ته يو بل نوم
ورکې . کاظم «کاظمئ » د بي بي ثي په را ديو کې وويل: ( در دهۀ
۴۰ شعر معاصر گفته شده. کسانکه از ۱۳۴۰ تا ۱۳۵۰ شعر گفته اثر
گذار نيمه بوده . ) يعني دغه نيمه شعر ډېر نوی دی .

٨

دبديع او بيان پوهه

بديع: عربي ګړه او صفت دی، چې په لغت کې ورته

نوی، تازه او مبدع واي او په پښتو کښې ورته نويز

(چې د نوي څخه اخستل شوی دی)واي او په اصطلاح

کې د شعر او ادب يوه پوهه ده، چې وينه هم ورته واي.

بديع د شعر يعني بدلي يو منظم چوکاټ جوړه وي،

چې د هغه تشريح، تفصيل، تفسير او ډولونه په

راتلونکي کې بيانيږي .

بيان : عربي ګړه ده او مصدر دی، چې لغوي معني ئي

ښکاره خبره او څرګنده وينا ده، چې په پښتو ژبه کې

ښکاره وېنه او يا ښکاره ويلو ته واي او په اصطلاح کې

د شعر يوه پوهه ده، چې دشعر توضيحات په کيږي .

٩

د شعر چوکاټ بندي او ډولونه :

ابهام : عربي ګړه او مصدردی، چې په لغت کې ورته

پټه خبره کول واي او په اصطلاح کې د بديع تحميل

الضدين او يا دوه مخي ورته واي . دوه مخي هغه دی،

چې يو شاعر يا يو ليکوال په خپل ليکنه کښې داسي

خبري راولي، چې دوې تضاد ماناوي ولري، ياني هم

(c) ketabton.com: The Digital Library



مدح وي او هم بد ويل . لکه د الفت په دغه شعر کښې :

دا دروند پېټی چې په سر ئې ګرځومه

سر دې وخوري د چنکيز د وخت خاني ده

التفات : عربي مصدر دی، چې د چا خوا ته کتل، پام

کول او توجه لرلو ته واي .او په اصطلاح کښې دبديع

هغه ته واي، چې شاعر پخپل شعر کې د ويلو څخه

۱۰

خطاب ته او يا د خطاب څخه و غيبت ته او يا د غيبت

څخه خطاب ته او يا د مخاطب څخه مخاطب ته پيل

وکړي . څرنګه چې حميد ماشوخيل واي :

چې بې ياره خوب خندا کاندې ناصحه
عاشـــقان داهســـي نه دی خنــــدني
چې له ښکلو مي ناصح غلوې په حورو
په بـــــانه د بـــدرګـــی کـــا رهـــزني

تشبيه : يو عربي ګړه او مصدر دی، چې په لغت کې يو

شی د بل شي سره برابرکولو ته واي . او د شعر په

اصطلاح کښې يو صفت دی، چې په شعر کښې يو

شی د بل شي سره برابره ولو ته واي. دغه صفت د

ټوټوکو يا قيد په واسطه سره برابرکول دي .

لکه دغه تشبيه د رحمان بابا:

۱۱

علميــت د بــې عمــلو عالــمانــو
لکه پلنډ دکتابونو پر خره بار شه

د تشبيه ارکان: د تشبيه ارکانونه څلور دي :

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱: ـ مشبه، يعني هغه شی چې د بل شي سره برابروي .

۲: ـ مشبه بهي، ياني هغه شی چې ورته تشبه شي .

۳: ـ وجه شبه، يعني ګډه ستاينه چې په منځ كې د مشبه او مشبه بهي موجوده وي اود تشبه لامل ګرځي.

۴: ـ ټوټكي، هغه ادوات، دجر توري او قيدونه چې د تشبه له پاره په كار ځي. لكه : دغه رنګه، دغه ډول، لكه، د هغه په شاني او دغسي نور ډېر.

د حميد ماشوخيل تشبيه غزل :

۱۲

مشه ډېر هوا پرست لكه حباب
له دغـــې هـوا به شـــې خانه خـــراب

مرتبه د سړي مه غواړه له خدايه
چې مشغول ئې لكه ستور په خور او خواب

خوشحال خټك :

لكه ستا د زلفو تاب شته ( تشبه)
په سنبلو كښې هم تاب شته

لكه ستا د خولو بوي دی
هسي هم په ملك ګلاب شته

رحمان بابا واي:

هسي تله كا ندي و ګورته ياران ژر ژر
لكه تله كا و خپل كور ته كاراون ژر ژر

لكه شام هسي سحر ××× لكه سنګ هسي ګوهر

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱۳

تجنيس : عربي ګړه او مصدر دی، چې په لغت کې

ورته ديوه شي يو جنس کولو ياني يوډول کولو ته واي.

او د بديع او بيان په اصطلاح کې هغه شعر ته واي،

چې شاعر په هغه کښې دوه توکي سره يو ډول وښه يې،

يعني سره يو جنس يې کړي. دغه تجنيس په پښتو

ژبه کې پر اووه ډوله ښه ئي . دلته ئي درې ډوله ښوول کيږي :

۱: ـ تام تجنيس : چې په ليك اولوست کې يو شی وي،

خو مګر مانائي مخالفه وي، يعني ګړه يوه وي خو مانا

ئي سره يو شی نه وي. لکه :

ويني ) ليدو ته واي، او هم د انسان وينو ته واي.

پښتو) ژبي ته واي، او هم قول ته واي.

سپين) سپين رنګ دی، پاك او هم وازګي ته واي .

زمری) ژوي ته واي، او هم زړور ته واي .

۱۴

لکه د پير محمد کاګړ د غه بيت:

فراق په ما خوري د ځګر ويني
آشنا مي نشته الله مي ويني

داؤد خان واي :

چې د چا په زړه کي اور دميني بل شي
په اوربل کي لمبې ګډي حال ئي بل شي

۲: ـ خطي تجنيس : هغه تجنيس ته واي چې په ليك

کښې يو ډول ښکاره سي، خو په ټکو کښې فرق وي.

لکه: پوزي، توري، نوري، بوري، يوري ــ تل، بل ــ لر،

لړ ــ خپل، ختل ــ رنګ، زنګ ــ تېر، بېر او دغسي

(c) ketabton.com: The Digital Library



نور ډېر. لکه د رحمان بابا دغه شعر:

د چشمانو په ځنبل کښې تېر او بېر شې
اعتبـــار د زمـــانې اعتبـــار نـــه دی

الفت واي:

دلته ژوند قبيله يې دی، قبيله لکه قبله ده
توجه ورته لري ټول، که صغير دی که کبير

۱۵

۳ـ مطر تجنيس : دا هغه تجنيس دی، چې د ګړې شـکل

او ډول سره يو وي خو يو توری يې سره فرق ولري.

لکه: بار، باد ــ پل، بل ـ خپل، ځپل ـ ملنګ، پلنګ او

دغسـي نور ډېر. حميد ماشوخيل واي:

هســـي پټ مهر په قهر کړي ښـــکلي
لکه ځوك چې کفرستان کښې ديناري کړي

سجع يا مسجع : عربي ګړه او نوم دی، لغوي مانا يې

قافيه لرونکې خبره يا يوه منظومه او واضحه وينا ده،

په اصطلاح کې د علم بديع يوه کلام ته واي، چې هم

آهنګه او موزون وي، چې يو خطيب او يا يو ليکوال يې

وينا کوي.لکه دخواجه عبداله انصاري پاړسـي مناجات .

لکه د خواجه دغه مناجات، چې په پښتو وکيلي ژباړه کړی :
الهي! بې سياله او يوازنی خو بې ته، ولاړ قايم او ډېر ځواکمن
خو بې ته، دهر شي ليدونکی بې ته، د هري پوټي پوهېدونکی بې ته، سپڅلی
له هرعيب بې ته، د هر درمل لامل خو بې ته، درمل د ټولو زړونو بې ته .

(c) ketabton.com: The Digital Library





يو نثر روان خبري دي، سجع او قافيه نه لري .

خوتسلسل يې روان وي او پرله پوري وي . اوشعر

چې دی، منظوم دی او قافيه لرونکی دی. لکه :

له هغه صياد حميد وساتې ته خدايه
چې يې لومه کړه د رب ثنا سپاس

تلميح : عربي ګړه ده او مصدردی، چې لغوي مانا يې

مالګينې خبري ته واي او د علم بديع په اصطلاح کښې

د شعر ويلو هغه هنر دی، چې شاعر يې په خپل کلام

کښې داسي راولي، که ويونکی له اصلي کسي څخه

خبر نه وي نو دبدلي په معني نه پوهيږي .

لکه د رحمان بابا دغه دوه شعرونه:

څوك له ځمکي واسمان ته شي ختلی
ده عيسی لره ورکړی دا مکان دی
۱۷

څوك له خداې سره خبري شي کولی
ده موسی مشرف کړی په دا شان دی

ارسال المثل : نوم دی، عربي ګړه ده، چې په اصطلاح

کې د علم بديع هغه شعر دی، چې شاعر پخپل شعر

کې يو نامتو متل راولي، او يا حکيمانه شعر و واي .

لکه دغه شعر د رحمان بابا:

زه و زاهدانو ته حيران يم، دوي و ماته
ديوانه به ده خنددو، ده به ديوانه

د مکې په بزګئ کې هيڅ شك نشته
ولې خر به حاجي نشي په طواف

(c) ketabton.com: The Digital Library



شمس الدين کاکړ واي :
واي لور او زوي تر پښو اوبه تر حلقه
فراموش په بېلتانه ځان او جهان شي
تحريف : عربي ګړه ده، چې لغوي معنی ئي د چا خبره،

وينا او يا شعر تغيره ول او بدلولو ته واي .

په ادب او شعر کښې و هيڅ چا ته اجازه نسته، چې د

١٨

چا شعر، خبره يا وينا تحريف ياني اليشه کړي .

ودغه کار ته په ادب او هنرکښې جعل کاري واي .

مراعات النظير: چې په اصطلاح کې دعلم بديع تناسب

او تلفيق ته واي. تلفيق ته په پښتو ژبه کښې سره ګنډل

د دو شيانو، سره يوځاې کول او پيوندول د خبرو دي .

او پخپل شعر کې شاعر خبري راولي، چې يو له بله

سره تناسب او نږدې والی ولري .

دغسي بدلي په پښتو ژبه کښې ډېر دود لري .

خوشال واي :

زه يو يار غواړم زيبا ښه×× سر تر پايه دلربا ښــه
ښايسته پـه شپږ جـهته×× هر اندام جــدا جــدا ښــه
ځوك د هنره ښايسته دی×× دی په حسن ترهر چا ښه
تن ئي ښـــه د ګل تر پاڼه×× تمــام قــد او بــالا ښــــه

١٩

لف او نشر: عربي ګړه ده، چې لغوي معنی يې کړکيچ

او تيت او پرك ته واي. او د علم بديع په اصطلاح

(c) ketabton.com: The Digital Library



کښې هغه شعر ته واي، چې شاعر پخپل شعر کې په

لومړئ مصراع کې یویا څو نومونه راولي او په بلي مصرع

کې یې ستاینه ځیني وکړي. په لومړی مصراع کې نومونو

ته «لف » اوستایني ته ئي « نشر » واي .

لکه د الفت په دغه شعر کې:

ته منظور د هر نظر ئي ×××ته ددې عصر دلبر ئي
مبارك شه! مبارك شه! ×××په خوبانو کښې افسرئي
دالماس تاج دي پر سردی×× آراسته په زر، زیورئي

طباق : عربي ګړه ده او مصدر دی، چې لغوي معنی

ئي برابري او مطابقت ته واي . د علم بدیع په اصطلاح ورته

تضاد یا تقابل واي، چې شاعر ئي پخپل شعر کښې

٢٠

داسي ګړې راولي، چې دغه دیو بله سره تضاد وي .

لکه پاس او ټیټ ــ شپه او ورځ ـــ ژړا او خندا ــ اور

او اوبه ــ تور او سپین او دغسي نور ډېر.

حمید ماشوخیل واي :

ښه او بد د یار په بله دي لذیذ
ګوښې ګوښې یو تر بله دي لذیذ

دا تروه ترخه کنځل د دلبرانو
تر شکرو یو تر سله دي لذیذ

خوشحال خټك:

د شرابو مستي ژر شي نیست او هست
لایزاله مستي نه درومي له مست

(c) ketabton.com: The Digital Library



د عاشق خاطر او خيال لكه درياب دی
چې څپه يې كله لوړه كله پست
٢١

رحمان بابا:

ځيني ډول وهي ښادي كا×××ځيني وير كا د خپل ځان

ځيني شمع غوندي ژاړي××× ځيني ګل غوندي خندان

كه ئي ګورې يو ګلزار دی ××× كه ئي ګورې يو بيابان

حسن تعليل: عربي ګړه او مصدردی، چې لغوي معنی

يې د يوه ښه علت ويل دي او د علم بديع په اصطلاح

كې هغه دی، چې شاعر خپل شعر كښې يوه ستاينه په

مناسب لامل سره راولي او دغه ستاينيز لامل حقيقي

نه وي څرنګه چې خيال او ادعا وي. رحمان بابا واي :

هر ساعت زما د غوږ په تاوولو
د فلك لاسونه شنه شو تر څنګلو

هغه سترګي چې نرګس وې هم بادام وې
تېرې توري شوې زما په قتلولو

٢٢

د كاږه كاږه باڼه او كږو ورځو
نور څه نه كا بې كږو كږو وهلو

توارد: مصدر دی او عربي ګړه ده، چې لغوي معنی ئي

يو په بل پسې راتلل، په يوه وخت باندي واردېدل او

پر يوه مهال باندي راكښته كېدلو ته واي. او په

اصطلاح كه د ادب هغه ته واي، چې دو شاعرانو يوه

خبره د يو او بل څخه په شعر كې داسي ويلې وي، چې

ګواكي يوه د دا بله څخه اروېدلې وي او دغه شعر په

(c) ketabton.com: The Digital Library



معنى او مفهوم کښې سره يو شى وي .

لکه د رحمان بابا اوبيدل دغه شعرونه که څه هم

رحمان بابا توارد نه دى کړى، د توارد شعرونه دغسي

وي .

۲۳

رحمان بابا:

که ښيښه د نام او ننګ دي شي تر څنګ
د هر چا په کج روى به خبل ځيګر خورئ

بيدل:

هرکه پا کج ميګذارد خون دل ما ميخوريم
شيشهٔ ناموس عالم در بغل داريم ما

حميد ماشوخيل او سعدي شيرازي :

د دښنه په مرګ هاله کوه ښادئ
که فرمان لرې د خپلې آزادئ

عدو ګر بميرد جاي شادماني نيست
وليکن عمر ما جاويداني نيست

حکايت: مصدر دى عربي ګړه ده، چې د يو چا کيسه

او يا تاريخ بيان وي . په اصطلاح کې دادب يوشاعر

(c) ketabton.com: The Digital Library



۲۴

پخپل شعر کښې د يو چا يا د يو شي کيسه يا نقل

کوي او د يو چا بيان ته هم واي .

لکه د ملا پير محمد مياجي شعر : (حکايت)

شيخ متي چې خليلي وو ×××دی له اصله لوي ولي وو

يوه ورځ روان په لار وو××د لوي ښښتن په استغفاروو

کـړ د ذکـر د غـفار ××× يوه شـپه نه وو اوزگـار

پر دې لار وې تېرې گتي ××× لاري ځمکي وې په پتي

ډېري شپې راغی رويدار ××× چې يې صافه کړله لار

يو دهقان به ابياري کړه × شپه شپه به يې خواري کړه

ده ليده په توره شپه ××× چې شيخ متي به زيار اخته

له راحته به بېزار وو ××× ټوله شپه به دی بيدار وو

يوه شپه راتېرمليار سو×× شيخ متي ته په گفتار سو

اي دخداي رويدارخه کړې×دومره زورزحمت پرخه کړې

ته بادار يې د وليانو ××× ته قيـــــد د صــــالحانو

۲۵

ستاددرخاوري سره زردي×دهرچاکهول البصر دي

په شپو شپو يې ته بيخوابه × په زحمت په اضطرابه

پاکوې دلاري گتـــي ××× په دي خاوره خه دي گتي

داسي ووي شيخ متـي××× د مـولا پـه عشق ستي

چې خدمت د خلق الله ××× يو گـړی په يـوه ساه

تر هر خه بهتر دي وروره ×× زده کړه داخبره گوره

(c) ketabton.com: The Digital Library



ترکیب بند: د عربي ګړې یو مرکب دی، چې یو ځای

تړلو ته واي. په اصطلاح کښې دعلم بدیع و هغه شي

ته واي، چې شاعر څو بنده شعر په بحر کښې موافق

او بندونه په قافیو سره جلا وي، چې وروسته تر هر بند

یو بیت په جلا قافي سره را ولي. دغه جلا بیت په هر

بند پسې بیا نه تکراریږي یاني ځان ګړی بیت ویل

کیږي، چې فرق د ترکیب بند او د ترجیع بند په دغه

۲۶

کښې دی . لکه د حمید ماشوخیل دغه ترکیب بند

نن په شپه زما د یار په کـوم مـکان وي
جلوه ګر به په کوم هټ په کوم دکان وي

شرمولـی به ئي حسـن کـوم تـرکان وي بند
کوم دکان به یې د خولې د دورو کان وي

پـه ډېـوه به یې د مخ څـوك پتنـګان وي
همـخوابه به ئي پـاکـان کـه نا پاکـان وي

ولي نه چوې له دې غمه زما دله بیت
چې دي واورېده د یار د تلو بدله

نه به وي ورسـره هسـي مسـلمان څوك
چې یې واخـلي خـصمانه د آبو نان څوك

نه به وي ور بانـدي هسـي مهـربان څوك
چـې ئي وبـولي په ځـار او په قربان څـوك
۲۷

یا ئي سو یری کا په سر لاس د احسان څوك بند
یا ئي ورکړي دبـل کار سـر او سامان څوك

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې له هسي غمه نه مرم ژوندی پايم بيت
تو زما په محبت شــــه بې وفايم!

ترجيع بند: يوه عربي ګړه ده او مرکب نوم دی، چې

اړولو ته واي او د علم بديع په اصطلاح کې هغه شعر

ته واي، چې شاعر خو بدلي يا څوبنده شعر په بحر کې

سره موافق او په قافيو کې جلا وي، واي او وروسته له

هر بند څخه يو بيت تکرار په جلا قافيي سره راولي،

چې دغه بيت تر هر بند وروسته تکراريږي ودغه بيت

ته ترجيع او يا بند ګردان واي .

٢٨

مرثيه : عربي ګړه او نوم دی، چې په لغت کې ورته

خوابدي، وير، ماتهېجني ته واي. د علم بديع په

اصطلاح کښې هغه شعر يا وينا ته ويل کيږي چې

شاعر يې دماتم اويا د وير په وخت کې واي او يا د مړې

مدحه کوي .

د بي بي زينبي دغه ويرنامه ( مرثيه) پټه خزانه

ږغ سو چې ورور تېر له دنيا سونا × قندهار واړه په ژړا سونا

زړه مي په وير کې مبتلا سونا × چې شاه محمودله ماجدا سونا

دا روڼ جهان راته تورتم دی نا× زړه د بېلتون په تيغ قلم دی نا

هوتك غمجن دی پردی ماتم دی نا× د پاچاهی تاج مو برهم دی نا

چې شاه محمود تېر تر دې نيا سو نا× قندهار واړه په ږړا سو نا

خوانو مېړونو د تورو جنګ وي نا × ولاړ د کام په نام ننګ وي نا
دښمن له ده په وينو رنګ وو نا× پر ميدان شېر وو يا پلنك وو نا
افسوس چې مرګ د ده پر خوا سو نا×
قندهار واړه په ژړا سونا

(c) ketabton.com: The Digital Library



محموده نه يوازي خورژاړي نا × پرمرگ دي ټول کلى ،کور ژاړي نا

۲۹

معما: عربي گړه او نوم دی، چې په پښتو کې ورته پټه

گړه واي . او د علم بديع په اصطلاح کې د بديع يوي

پټي خبري ته واي، چې معنی يې په شعر کې پټه وي .

او دا خبره مرموزه وي. د محمد يونس معما:

څو چې نيم لب يې نمك اخستی نه وي

د ( يونس) نمکي اسم پر حرام شه

د محشر نه لرې شرکړه کښېږده پر مدهوش

دمدهوش نه لرې هوش کړه نوم دمحبوبدی بې خروش

قطعه : عربي گړه او نوم دی، خو په پښتو کې ورته ټوټه

برخه او يا پارچې ته واي. د بديع او بيان په اصطلاح

کې يوه ټوټه شعر دی، چې د لومړی مصراع قافيه د

دويمي مصراع سره يو ډول نه وي او د بيتو شمېر ئي

د اوو څخه بيا تر لسو ډېر نه وي .

۳۰

د محمد طاهر قطعه :

(c) ketabton.com: The Digital Library



واي داچې صحبت کاندي ×× یوله بلـــه ډېــر اثر

په کلو دي مصاحب سوم×× ستا صحبت نه کړم خبر

دقطعې جوابیه : (پټه خزانه)

صحبت ډېر اثر کا ګوره ×× منـــکر نه سې د اثر
ته د مخه هغه شــــی وې ×× اوس انسان سوې ته بشـــر

التزام: عربي مصدر دی، ملزم کېدو ته واي او په

پښتو کې ورته یو کار پر غاړه اخستل، یوه امر ته غاړه

ایښودل واي. په اصطلاح کې د بدیع پوهني هغه ته واي

چې شاعر یو التزام یا عنات ته غاړه کښېږدي، یاني

شاعر پخپل شعر کښې ترمخ تر دو تورو یا ترشا ئي د

قافیي یوبل تورى راولي که شاعر تردغه توري تېر شي

په شعر کې کوم کمی نه پیدا کیري،خو برسېره پېردې
۳۱

شاعر ځان ملزم ګڼي او دغه کار کوي. چې دلته

بي بي زینبي پخپل شعر کې « نا» التزام کړې دی .

ږغ سو چې ورور تېر له دنیا سو«نا»
قــــندهــار واړه پــــه ژړا ســـــو« نا»

اود سعدی په دغه شعر کې «ي» ترمخ تر«لام» التزام

کړې ده.

چشم بدت دور ای بدیع شمایل
ماه من شمع جمع و میر قبایل

اتساع : عربي مصدر دی، چې فراخولو، ارتولو ته واي

او په اصطلاح کې د علم بدیع هغه شعر ته واي، چې

څو ډوله تفسیر شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



حشو: عربي نوم دی، چې په لغت کې ورته يو نا ځيزی

شی او يا هغه شی چې نالیچکه يا د تلتك منځ په

٣٢

ډك كړي. او په اصطلاح کې د علم بديع هغه

خبري ته

واي، چې په وينا يا په شعر کې زائد راشي او د مانا د

لحاظه احتياج ورته نه وي. و دغه خبري ته اعتراض يا

اعتراض الکلام ترمخ تر تامېدلو ته واي.

مستزاد: عربي نوم دی، چې په پښتو کې ورته ډېروالی

واي او په پاړسي کې ورته زيادولو ته واي. او په

اصطلاح کې د علم بديع و هغه شعر ته واي، چې په

پاي کې د هري مصرع څو توري ايضافه تر وزن د

شعر راولي . لکه په دغه پاړسي شعر کې:

در خواب جـــمال يار راميديدم «در عين صفا»

وز گلشن وصل او گلي ميچيدم « بي خار

جفا»

٣٣

عروض : عربي ګړه او نوم دی، چې په لغت کښې ورته

د شعر برابرولو ته واي. او په ادبي اصطلاح کښې هغه

علم دی، چې په هغه سره د شعر پر وزن، قافيي او

تفسير څېړنه او خبري کوي .

نظم : عربي ګړه او مصدردی، چې په لغت کې ترتيبول

او سمون ته واي، چې په پښتو کښې ورته سمتيا واي.

او په اصطلاح کې د شعر يو موزون او قافيه لرونکي

بدلي ته واي، چې خلاف د نثر دی . لکه دغه نظم :

(c) ketabton.com: The Digital Library



دی دی رهبر د کائناتو تر ده جار سم
دی دی نامور د مخلوقاتو تر ده جار سم

غزل: عربي مصدر دی، چې د ښوځو سره مجلس اود

ښځوسره عشقي خبري کول دي او حديث د عشق د

ښځو سره . او په پښتو کښې د مېنانو سره نارې او
۳۴

عشقي خبري دي. او د ادب په اصطلاح
کښې يو

ډول شعر دی، چې دښځو په باره کې ويل کيږي، ياني

تر ډېره ځايه عشقې وي، او د بيتو شمېر يې له اوو

څخه لږ نه وي او تر پنځه لسو ډېر نه وي. لکه دغه غزل:

ليــلا څه ســوه ليـلا ليـلا ناروغه وه بيـګاه
مــا ګهيځ ولـيـــده دګل په شان يې ځليده

يا د حميد ماشو خيل دغه غزل:

چې مې تن د ختـن شــو زما لاله
دا اثر ګنم دا ستــا لـه خط او خاله

آرايــش له آلايشــه لـعـل مـومــې
په راتله دخــال او خـط مشــه مــلاله

زه به درسته شپه ژړا لکه شبنم کړم
خانده ته د ګل په خبر تازه خوشحاله
۳۵

تر پايه پوري نه (۹)بيته دي!

قصيده: عربي نوم دی، چې په پارسي کې ورته چکامه

واي. او په پښتو کښې ورته ستاينه او ليار ښودنه

واي. يو ډول شعر دی، چې اکثرا په وغظ، حکمت،

حماسه او يا ستاينه اويا بد وينه کې ويل کيږي، چې د

(c) ketabton.com: The Digital Library



لومړۍ بيت دوي مصرع ئي برابري قافيې لري او د

نورو بيتو د پاي دمصرع قافيه ئي دلومړي بيت د قافيي
سره برابره وي .
او د بيتو شمېر ئي تر شپاړسو لږ نه وي.

لکه دالفت دغه قصيده د رحمت اللعلمين:

رب العلمين دي رحــمت اللعلمين ګڼي
نه لـــري ثاني چــې دی خـاتم النبين ګڼي

ډېر خلك دي وايستل تيارونه د رڼا لور ته
ستا لاس کښې رڼا مسلمانان نورااليقين ګڼي
۳۶

ته په مؤمنـــانومهربانه لــه هــرچـــا نه ئي
ځکه دي رؤف رحيم ارحم الراحمين ګڼي

ترپايه لس بيته دي :

مصراع يا مصرع : په پښتو ژبه کښې ورته نيمکه واي .

ياني د يوه بيت نيماي (نيم بيتي) .

حماسه : عربي ګړه ده، چې په لغت کې ورته زړه ورتيا،

مېړنتوب او غښتلواله واي . د ادب په اصطلاح کې يو

ډول شعرونه دی، چې د اتلانو، جنګيالانو، غښتلو او

مېړنو خلکو په وياړ او هکله ويل شوي وي .

لکه دغه د خوشحال شعر:

راشه واوره دا داستان × نيــك او بد پکښـــې عيان
هم عبرت هم نصيحت دی× پرې دي پوه شي دانايان

زه خوشحال دشهبازخانيم× چې تورزن يم کان په کان
۳۷

شهبازخان ديحي خان وو× چې په توره شو سلطان

چې په توره مــېړنی وو × تيــر انداز وو شيخ کمان

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې غليم به يې پيدا شو × ځاځ يې ځاځ ووګورستان

رباعي:عربي ګړه او اسم صفت دی، چې په لغت کې

ورته څلوريځي واي. اودعلم عروض په اصطلاح کښې

څلوريځي هغه شعر دی، چې لومړي مصرع، دويمه او

څلرمه مصراع په يوه قافيه وي، چې پر وزن د لاحول

ولا قوته الا بالله وي . او که پر دغه وزن نه وي نو

هغه ته دوه بيتي واي. ښاي چې دريمه مصرع يې هم

د نورو قافيو سره سمه وي. لکه د الفت صاحب

څلوريځي :

سړه وسپنه په سره اور کښې پولاد شي
سره زر اور کښې شي زېور قدريې ډېر شي

٣٨

هر نبې د ابراهيم مقام نه مومي
د نمرود اور کښې حاصل ډېر لوئ مراد شي
درابعې څلوريزه (دا شاعره د کندهار ده )
ادم ئي مځکي ته راستون کا
په اور د غم ئي سوی لړمون کا
دوزخ ئي جوړ کا پر سر د مځکي
نوم د هغه ئي دلته بېلتون کا پټه خزانه
مدح : يوه عربي ګړه او مصدر دی، چې په لغت کې

ورته ستاينه او چاته لوړمقام ورکول واي. او د علم

عروض په اصطلاح کښې د يوه سړي يا يو چا په شان

کې شعر ويلو ته واي.

لکه د الفت دغه مدحه چې د وطن په باب يې ويلې ده:

وطـنه! ښــه دي آبـــو هـــوا ده
خومره دي زياته طبعي ښـــکلاده

لمر دي آسمان کښې څه ښه ځليږي

(c) ketabton.com: The Digital Library



ډېـوې د ســتورو د شـپـې بلــیږي

۳۹
بهیږي هر لور مست مست سندونه
پـــه غورځنګلونــو دي آبـــشارونــه
ورمـــې د ګلـــو خـــپې خـــپې دي
بلبولان مست دي مستي نغمې دي

ځولی دي ډکي لـــه نعـــمتونو
سیــــــنه دي ډکه ده له ګنـــجونو

مېوې دي ځومره خوږې خوږې دي
په شــــنو باغو کښې مزې مزې دي

تر پایه!
مثنوي: یوه عربي ګړه او ستاینه ده، چې په پښتو ژبه

کښې ورته دوه ایزه او په عربي کې ورته مزدوج او په

پاړسي کې ورته »دو دو« واي . او په اصطلاح کې د

علم شعر داسي یوه شعر ته واي، چې یو غزل

هرځومره بیتونه ولري د بیت هردوه نیم بیتي یې د

ځانه جلا جلا قافیه لري .

۴۰

لکه د خداي(ج) بښلي مولوي صالح محمد

کندهاري

(c) ketabton.com: The Digital Library



د پښتو مثنوي .

او دلته د زرغون خان مثنوي ساقي نامه:

ساقي پاځه پياله راکړه ×× مرور يار مي پخلا کړه

اوبه توي په لمبو کړه ××اور مي مړ په دې اوبو کړه

پسرلی شو غنچه ګل کا ×× زلفـــي تاوي د سنبل کا

بلبلان شـــورو فغان کا ×× کړېدني په ګلـــستاه کا

زاهد وځي صومعي ځخه××شراب پيري دميخانې څخه

هر سړی په مي يو مست دی + دې بهار کې ګل پرست دی

او دغه مثنوي د مولوي صالح محمد کندهاري!

زه د يار کړمه خبري ×× ښې خوږې لکه شکري

ښه پښتو وايه دلبره ×× که هرڅو وې لرو بره
۴۱

کندهاری که وردګي وي ×× مشرقي که جنوبي وي

هر چې وايه وايه وايه ××× معشوقه مي ښه راستايه

عربي وي که پاړســـي ××× که ترکـي وي که هــندي

چې د عشق کوي خبري ××× هغه واړه دي منظوري

تر بايه!
د شعر تنظيم او ترتيب

قافيه: عربي نوم دی، چې په لغت کې د يو شي پاي

يا شا ښوولو ته واي، او په اصطلاح کې د شعرد بيت

آخر ته واي، يعنی هغه توري چې د بيت په پاي کښې

راځي قافيه ده. لکه په دغه لاندني بيت کښې:

علم څه شريف هنر دی ××× چې ميراث د پيغمبر دی

دلته دغه دوه توري لکه د«ی » او حرکت د «ر» دمخ

(c) ketabton.com: The Digital Library



۴۲

د توري قافيه ده. او په بله بدله کښې :

ستا له دم سره همدم دی زما روح
بې له تا درهم برهم دی زما روح

دلته په دغه لوړ شعر کښې «ما» او حرکت د مخ د

تورې لکه د «ز» قافيه ده او روح يې رديف دی، چې په

پښتو کې ورته شاګونی واي .

رديف : عربي توری او ستاينه ده، چې په لغت کې شاته

درېدل، قطار،په چا پسې تلل اوتابع ته واي. په اصطلاح

کښې د قافيي د علم هغه توربدی، چې وروسته تر

قافيي په وارو تکرار راسي. لکه د رحمان بابا په دغه

شعر کښې :

په ورځ ناست يې بې طلبه × په شپه خوب کړې بې ادبه

دلته په دغه پورته شعر کښې په لومړۍ مصراع کې

۴۳

«بې» قافيه ده او دويم توری «طلبه» رديف دی .

رديف په اصطلاح کښې د علم عروض د علت توري

هم دي . لکه :

«الف»، « واو»،« يي »، دي، چې په شعر کې ئي راولي

لکه «الف» په دغه وينا کښې:

حساب او کتاب ـــــــ لکه «ي» په دغه وينا کې

حسيب او نصيب ـــ

په پښتو ژبه کښې بيله د علت له تورو نه نور تورې هم

(c) ketabton.com: The Digital Library



کېداي سي چې رديف سي. لکه: »ګ« تګ او راتګ

تلل او راتلل.

روي : عربي ګړه ده، چې په لغت کې دبارانه ډکي وريځي

ته او يا روانو اوبو ته واي.په اصطلاح کې دعلم عروض

دقافيي اصل توری دی، چې قافيه پر هغي ځرخي

۴۴

او د قافيي د پاي توری دی، چې وهغې ته د

قصيدې

نسبت ورکول کيږي. لکه : «ر » په لر او بر کې. لکه:

«ت» په هست او نيست کې. « ل »په ګل او مل کې او

دغسي نور.

تقطيع: عربي مصدر دی، چې ځيرلو، ټوټه کولو او

جلاوالي ته واي. په اصطلاح کې د علم عروض د شعر

تجزي ته واي، ياني د شعر اندازه کول او سنجول دي،

چې شعر په اجزاوو سره د علم عروض تجزيه سي.

او هر جز د بل جز سره ياني د خپلو افاعيلو سره

کښېښوول سي وزن د شعر او موزوني او نا موزوني

د شعر ځرنګنده شي.

افاعيل: عربي نوم دی، چې د فعل ياني کړني جمع ده.

د فعل ډېرواله افعال دي او افاعيل د جمع جمع ده. په

۴۵

اصطلاح کې دعروض پوهي ارکان، اجزا او اوزان ته

د شعر واي، چې هغه څلور دي. لکه فعلولن، مفاعيلن،

مفاعلتن او فاعلاتن دي . نور اجزا له دغو څلورو څخه

(c) ketabton.com: The Digital Library



اخستل کيږي، چې تواعيل هم ورته واي .

د پښتو لنډۍ : د پښتو د لنډيودشعر ترتيب تقريبا

داسي دی لکه د قطعي ، خو بدلي ئي يوه يوه ويل

سوې ده او شاعر يې نه دی څرګند.اغلب دغه لنډۍ د

ښځوله خوا ويل سوي دي . لنډۍ موزون، دګدازه

ډکي، عشقي او حماسه يې بدلي دي . لکه :

خلك دي هرخه هرخه واي
دامي دستور دی مدام سترګي تورمه

باده پر باد مي سلام وايه
پر هغه باد چې د جانان پر لوري ځينه
۴۶

جانانه راسه ديدن وکه
بيابه جهان راپسي غواړئ نه په يمه

ژړامي نه ده په چا ګرمه
خوشي ګروان په اوښکو ولي لنده ومه

د پښتو لنډۍ ترحده ډېري دي .

بحر: عربي نوم دی، چې په لغت کې سمندر ته واي او

جمع يې ابحاردی. په اصطلاح کې د عروض پوهي د

شعر وزن ته هم واي، چې د شعرمقياس، اندازه او

اوزان ياني تاله ښه ئي . د شعر بحور نولس دي .

طويل، مديد، بسيط، وافر، کامل، هزج، رجز، رمل،

منسرج، مضارع، متقضب، مجتث، سريع، جديد،

قريب، خفيف، مشاکل، تقارب يا متقارب، تدارك يا

متدارك دي . پرته له دغه نولس بحورو څخه ځينو
۴۷

(c) ketabton.com: The Digital Library



عروض پوهانو يولس بحور نور هم ور زياد کړي دي .

لکه: عريض، عميق، کبير، مذيل، قليب، حميد، صغير،

اصم، سليم او حميم.

بتر: عربي مصدر دی، چې لغوي معنی يې پريکولو، له

بيخه ايستلو ته واي.او په اصطلاح کې د علم عروض

هغه ته واي، چې د فعولن د جوړښت څخه يو شی

حذف شي، ياني لومړی توری له دغه کلمي څخه لري

کړي او د لنډيز سبب يې هم له منځه يوسي، چې

«عو» پاته سي او نقل په «فع » سره سي ودغه ته ابتر

ياني حذف سوي کلمي ته واي .

خزم : عربي مصدردی، چې لغوي مانا يې ملغلري په

تار پيلو او د اوښ پوزي ته مهار اچول واي . په

اصطلاح کې د علم عروض دشعر په لومړې سر کې

۴۸

ډېروالی ته وي . خو هغه د يوه توري څخه بيا

تر

څلور تورو پــوري دي. خودغه دتقطيع په حساب نه

راځي . او دغه يوازي او يوازي خاص د عربي شعرونو

لپاره دی. په پښتو شعر کې تر يوه توري نه ډېريږي .

نقـــد: عربي مصدر دی، چې په لغت کې جلاکولو ته

واي ياني ښه له بدو څخه بېلول او بې عيبه کول دي .

او دشعر او ادب په اصطلاح کښې د يوه شعر يا وينا

(c) ketabton.com: The Digital Library



او يا نثر د ښه او بد ښېله ول او يا په ګوته کول دي . خزل :- عربي مصدر دی د يو
شي پرېکولو
ته وائ . او په عروض پوهنه کي د
الپ ايسته کېده دمتفاعلن څخه اود
هغه د« تې » درېده (سکون) دی، چې په
مفتعلن واړول سي .
۴۹
مبالغه عربي مصدر دی چې په يوه کار کي زياد و الي ته واي .
د بديع پوهني په اصطلاح سره ديو چا يا ديو شي په ستاينه کي
تر حده ډېر وه واي . تر هغه ځايه چې ناممکنه په نظر رانسي اوکه
ناممکنه په نظر راغی نو «غُلوُ» ياني ښخي تر حد ډېر ته واي .
خوشال واي : مبالغه
د خوشحال سره که کښيني يو څو کاله
دا دغرو ختېک به اوړه شاعران سي

اغراق يو بل ډول د مبالغې دی چې په منځ کي دمبالغې او «غلو»
دی . خوشال واي :
چې په خوب شم ستاله خيال سره خواب کړم
چې ښدار شم د مخ سوده دي په افتاب کړم

«غُلوُ» ناممکنه مبالغه تر اغراق لا اوښتې .
حميد ماشوخيل واي :
ښله تا هسي ضعيف يم ګل رخساره
هر حباب باندي که پښه ږدم نه ماتيږي

۵۰

د دو شاعرانو شعرونه يو له بل سره پرتله کول

د رحمان بابا دشعر اوله مصراع او دحميدد شعر دويمه مصرع

پورته بدر را ښکاره شو ښــکته نمـر
آيـــنــه تــوره تبی شـــي په جـــوهــر

نمر سپوږمی مي د پالنګ د پاسه رغــړي
سينـــد ته سېــل مـحتاج نه دی د رهبر

په سرو سپينو درو لعلو يې غوړ ډك شي
د طوبا په سيوري ناست يم مخ په نمر

چې دي ووينــم په مخ مي اوښــکي درومـــي

(c) ketabton.com: The Digital Library



په درياب کښــې اور رالــګي مــقرر

بل مذکور د ســخن ګويو سترګو نه زده
چې مي نه په سر، سرګيږي نه په زر

که رحمان صاحب نظر باله سي ښــــاي
د حـــميد د حــيا قــــدر لـــکه غر

۵۱

د حميد ماشوخېل اوله مصرع د رحمان بابادويمه مصرع

تورو زلفو مي خاطرکړو تار په تار
چې غرقاب مي هم ګرېوان دی هم کنار

لکه سـېل چې رژه وي کمـــر د شـګو
لکه اېښی چـــې چــا ګل وي په دســـتار

له خواری د يار په خط زړه ښـــه کومــه
زه خـوړلــی يــم پـه کـټ د زلــفو مـــار

رهبري په دردو غــم غواړم وصال تــه
ګــڼه خون کله کـــولای شـــي بــيـمار

دا دروغ دي چې په وصل کښې ښادي ده
هــغه وايـــه چـې بې کـــوډو وي دلـــدار

تل حـــميد په دا وينا ستا يه مـــطربـــه
نــــه ورکـــيــږي د رحــمان د زړه غـــبار

۵۲

وېليك (نثر)

د قرېنې څخه چې څرګندېږي وېليك ياني نثر تر شعر

ليکني په ليکنګ کي تر مخ راغلی دی . څرنګه - چې ليکل دود سواو نثر هم رواج ومونډ
نو د خلکو په

ورځني ژوند کښې يو لوي توپير راغی. خو ډېرو خلکو

(c) ketabton.com: The Digital Library



ليك لوست نسو كولاي .

يو خو لږ و انسانانو په هره طبقي كښې چې وو

پخپله ژبه يې ليك او لوست كولاي سو، تر هغو چې

كرار كرار ليك او لو ست عام سو.

ليك د انسانانو په ورځني ژوند كښې يو لوي رول لوبه

ولی دی، چې په ايدارو اودفترو كښې داسناد ليكلو،

تاريخ ليكلو، شعر ليكلو او دغسي نورو ليكنو لپاره

زمينه برابره سوه. كه څه هم بدله يعنی شعر تر ليك

او لوست ډېر ترمخ ده. خو لومړی په ليك سره نثر

۵۳

ليكل سوی. وروسته تر نثرليكني شعرليكنه منځ ته

راغلې ده او د ژبي ادبيات ليكل سوي. په راتلونكي كي

به وګورو، چې پښتو اديبانو څرنګه پښتونثر ليكلی دی .

دغه په راتلونكي كښې به په دغه كتاب كښې ولولو.

افهام او تفهيم

د پښتو نوی نثر (وېليك)

انسان يو طبعي عقل لرونكی، خبري كونكی، د زده

كړې قوه لرونكی او د كار اندام لرونكی مخلوق دی .

انسان هر شی وروسته تر خپل زېږېدلـــو زده كوې .

دغه د زده كړې قدرت دانسان په فطرت كښې پروت

دی. دلومړي انسانانو لـويه زده كړه خبري، ښكار او

ځان د طبعيت په مقابل كې ساتل وو.

۵۴

خو زه نه غواړم دلته پر لومړې انسان او د ده

پر كړه

(c) ketabton.com: The Digital Library



وړه خبري وکړم. یوازي دا وایم، چې انسان خرنګه او
په څه ډول بریالی او ځواکمن سو، چې خپل معلومات
وخپل راتلونکو کسانو ته په اسانه توګه ور ورسوي .
که په لنډه توګه وویل شي، دا هغه مهال دی، چې لیك
منځ ته راځي. ړغ لرونکي د( الپ او بې) توري له ډېرو
ډول ډول تحولاتو نه وروسته تقریبا په دیرلس سوه کې
ترمخ تر میلاد (Brokhaus[2] ) منځ ته راغلي دي . دا
هغه مهال وو، چې په کرار کرار لیك او لوست په
نورماله توګه سره د خلکو په منځ کې عمومیت پیدا
کوي او افهام او تفهیم په خلکو کښې اسانه کیږي او
دودیږي. چې دا لیکنه څرنګه، چیري، د چا لــخوا او
څرنګه تحول وموند؟ دلته د دغه بحث موضوع نه ده .
۵۵

څرنګه چې لیك منځ ته راځي د انسان ډېري اړتیاوي
آسانه کیږي.د ده معلومات، خبري اطلاعات او تاریخي
سند لرلو زمینه ډېره لویه او پراخه کیږي .
نوځکه انسان ته دوې وسیلي د یوبل دپوهه ولــو زمینه
برا بره وي. لومړی داچې د خبرو کولو زمینه، چې دغه
پخوا لاهم دود وه برابریږي، یاني خبري د ړغ په توګه
د خولې له لیاري و غوږ ته رسول وه . دغه ړغ لړو ډېر
تر پنځوس متره پورې رسیږي، ډېر نه دی. دغه خبره
به لاهم د ځینو خلکو په یاد کښې پاته سوه او دځینو

(c) ketabton.com: The Digital Library



به د یاده و وته . بله وسیله چې انسان د هغې په مرسته

د ډېرو بریالیتوبو خاوند سو، هغه د لیك او لوست یاني

د «الپ او بې » منځ ته راتلل وو. د دغو تورو د لیکلو

په مرسته به ډېرو لیري لیري ځایونو ته به معلوماتونه،

۵۶

اطلاعات اوپی غامونه به استول کېده.

او برسېره پر دې ډېر معلومات به په دفترونو کښې

خوندي ساتل کېده. چې دغه اسناد به تل پر واقعیت

ولاړ وو ځکه خبري به د خلکو له یاده وتیلي وي خو

په لیك کښې به هغسې لیکل سوي پرتې وې .

اوسنی انسان هم په دغه دوو وسیلو سره افهام او

تفهیم کوي. لکه : خبري او لیکنه.

الپ : خبره یا وینه په عمومي توګه درې ډولونه لري:

لمړی: وینه د ورځني لمړني اړتیا وو لپاره د یو بل

سره خبري کول، پلورل، پېرودل او خپل ورځني

اړتیاوي په عادي مورنۍ ژبه حل کول .

دویم: وینه د علمي موضوعګانو لپاره لکه دمشخصو او معیینو شیانو، ادبي مسایلو، عدلي،
طیبي، مسلکي

(c) ketabton.com: The Digital Library



۵۷

او دغسي نورو مسأیلو د حل لپاره پکاریږي .

دریم: شعر ویل دي .
څرنګه چې مخ کښې پر شعر بحث وسو، دلته به یې په لنډه توګه یاده ونه وسي. خبري د انسان طبعي غریزه ده اود هغه فطري ستاینه ده. شعر هم په ځینوانسانا نو کښې یوه طبعي غریزه وي . هغه څوك چې دغه طبعي

صفت لري عادي خبري یې هم شعر ویل وي .دغسي

یو شاعر روانه طبعه د شعر لري . او بل یې کسبي

شاعر دی، چې دغه شعر زده کیږي، تمرین غواړي او

ډېر ادبي کار غواړي او ډېر با تجروبه شاعر ښوونکی

غواړي اوادبي سلسله غواړي.دغه ډول کسبي شاعران

په هر ځائ، او په هر وخت کښې شعر نسي ویلاي .

دغه رنګه شاعران قلم، کاغذ، ارام ځائ غواړي او په
۵۸

ټولنه کښې د ده نازك خیال تحریکېده

غواړي .

بیا دی کولاي سي، چې هلته شعر وواي .

ب : لیکنه : لیکنه یو کسبي هنر دی لکه نور هنرونه او

صنعتونه، چې زده کیږي، لیکنه هم زده کیږي. لیکنه د

ادب پوهي یوه لویه او پراخه څانګه ده. ادبي پوهه او

هنر ټول پر لیك او لیکنه ولاړ دی .

هره ژبه ځان ته ځانګړې «الپ اوبې » لري او خاص

ږغونه لري. د دغو تورو له یوځائ کیدو څخه خبره

جوړېږي او د یوي خبري ږغ ورکوي . هره ژبه د خپلو

(c) ketabton.com: The Digital Library



خبرو د ږغونو د اړتیا په کچه توري یاني « الپ اوبې»

لري او په هغه لیکنه کوي .

په پښتو ژبه څلور ډوله لیکني کیږي :

لمړی: وېلیك لیکنه یعني نثر لیکنه .
۵۹

دویم: وړلیکنه یعني نثر مسجــع لیکنه .

دریم: ټوکماري لیکنه یعني طنز لیکنه .

څلرم: سندر لیکنه یعني شعر لیکنه .

وېلیك: د جملو څخه جوړه سوې لیکنه ده، چې مبدء

اوخبرلـري. هره جمله دفعل،فاعل اومفعول لرونکې ده.

د جملې ټول غړي دژبښود له قواعدو سره سم په

خپلو ځایو باندي لیکل کیږي اود لیك نښـي هم پکښـې

مراعات کیږي .دغسـي روانې بې قافیي لیك ته نثر واي .

په لیك کښـې نښـې او نښـانې: لکه ټکی یا نقطه (.)،

کامه یا ویرګول(،)،سـوالیه ( ؟)، ندائیه(! )، امریه (! )،

دوه ټکي(: ) ، ناخونك („ „) خطك (ــ)، قوسك () ،

ویرګول ترلاندي ټکی (؛) ، په سلو کې علامه (٪) ،

کوږ خط (/) ، ټکي ټکي (..... ) که دغه نښـې په لیك
۶۰

کښـې مراعات نسـي په لیك به چندانې

سړی و نه پوهیږي .

نوي وېلیکونه یا نثرونه : لکه د هېوادمل یوه ټوټه نثر:

« پدې دوره کې که ځینوپښـتنو د تجارت، څمکواو

(c) ketabton.com: The Digital Library



رموګلو لپاره ئي څه عواید تر لاسه کول، مګرنورو په

ډېرو بدو اقتصادي شرایطو کې له فقر او بدبختۍ سره

ژوند کاوه ........»
دلته دنورولیکوالانودنثر ډولونه اوکړنلیاري هم
ښوول کیږي . ، خو ترمخ تردي غواړم، چې څه
ووایم. هر لیکوال په لیکنه کې د ځانه خپله خپلواکه

کړنلاره لري . ځیني لیکوالان لنډي جملې او پردۍ

ګړي پخپله لیکنه کښې راولي او ځیني بیا اوږدې

جملې او لږ پردۍ ګړې پخپل نثر کښې راولي .

زه پدې نظریم، هر څومره چې یو لیکوال تر وسه زیار
۶۱

و باسي تر هغه ځایه، چې امکان لري پخپله ژبه ټولي

ګړې ولیکي. زما غوښتنه داده، هر څومره چې پخپله

ژبه او د هغي په ګړو لیکنه وسي، هغومره د هغي ژبي

ګړې وده کوي. او و نورو لیکوالانو ته هم ددغو ګړو په

کار وړل آسانه کیږي .

د نورو لیکوالانو لیکنه : لکه دمحمد ولي ځلمي نثرلیکنه :

«ابونصرمحمد بن عبدالجبارعتبي پخپل مشهور تاریخ

یمني کې چې په عربي ئي لیکلی دی، په څرګند ډول

واي، چې: «افغان د اوغان تعریب دی » وروسته د

اسلام تر دوري ځینو لیکوالو لکه ابو ریحان محمد بن

احمد بیروني تولد( ۳۶۲او وفات ۴۷۰) ابوالقاسم

فردوسي تولد( ۳۲۲ او وفات ۴۰۰) محمد حسین کاتب

کنیت یې ابوالفضل بیهقي وفات( ۴۷۰) قاضي منهاج

۶۲

(c) ketabton.com: The Digital Library



سراج جوزجاني اونورودافغان نوم پښپلونثرو
کي تکرار راوړی دی.»
د سيد بهادر شاه ظفر کاکا خيل تاريخ نثر ليکنه
دی واي :
«د يوسف زو په علاقه کې د خوشحال خان د قيد په

ورځو کې ډېره بد امني وه. او دا علاقه د شاهي

فوځونو له لاسه ډېره ځپل شوې وه. په دغه وروځو کې

هم ددې علاقې حالات ډېر مغشوش وو.خوشحال خان

پخپل يو نظم کې دې حالاتو ته هم يوه اشاره کړې ده.»

د ډاکتر محمدحسن کاکړ نثر ليکنه :

«زموږ د هېواد د رواني کشالئ د پېجلتيا غټه نښه

داده، چې د محمد داؤدخان د حکومت له نسکورېدو

نه ورسته تر اوسه پوري، چې شلم کال يې دی او په

ملك کې جنګ روان دی. فکر کېده، چې د شوروي د

يرغلګر پوځ له شړلو ورسته او تنظيمي حکومت په
۶۳

ځاي کيدو سره به جنګ ختم شي خو واك غوښتونکو

تنظيمونو جوز جاني ملېشو او نظار شورا په خپلو کې

د جنګ يو نوی دور شروع کړ. »

وړليك يا مسجع نثر

مسجع نثرپه ليکنه کې ځان ته يوه کړنلاره او بيخي

ځان ته يو خانګړی چوکاټ لري. نثر مسجع ، شعر او

نظم نه دی اونثر مسجع ته هم شعرنما نه سو ويلاي .

نثر مسجع د شعر او نثر تر منځ يو مستقله موزنه وينه

ده، چې د دغي ليکني استاذ او مخکښ خواجه عبداله

(c) ketabton.com: The Digital Library



انصاري يا پيري بازرگان دی .

نثر مسجع يو ډول ليکنه ده، بندونه لري، چې هر بند د هغه بل بند سره موزن دی . که څه هم قافيه او رديف نه لري. څرنګه چې موږ ښه او خراپ شعرلرو،دغسي

۶۴

هم په نثر مسجع کې ښه او بد سته .

زه غواړم، چې دلته د پښتو ژبو شاعرانو د مسجع نثر

يو څو بېلګي د نمونئ په توګه وښيم او يو پاړسي مسجع نثر چې په پښتو ژباړه سوی هم وښيم .

د ملاځالاك مسجع نثر ليکنه :

«واورئ مؤمنانو داخبرګوری په دا رنګ معلو ميږي، مؤمنان لك ورګډ شي، په بهشت کې پرآسانو به سواره شي، د هر مؤمن پر سر به تاج وي، چې دنيا تر پوري هېڅ نه څرګنديږي . هم به حوري فرشتګان غلمان وي، دده رکاب نيولی د خاکي آدم به هسي خدمت کيږي. په اول حصار چې ورشي دی د سپين زرو روغ دی پهنا يې د پنځه سوه کالو لار ويل کيږي. په صافی کې هسي صاف دی، چې د روغ بهشت بېرون

۶۵

ترې څرګنديږي.» ( د پښتونثر اته سوه کاله ۱۹۹ مخ)

(c) ketabton.com: The Digital Library



د مست مسجع نثرد ده د كتاب سلوك الغزات څخه :

« بيچاره چې دا بيان له سوزه ووي په كوه لك كې زر

خلويښت كلونه د حضرت د هجرت تېر وو د

مهجرو.» ( د پښتونثر اته سوه كله ۲۰۲ مخ)

د آخوند احمد مسجع كلام:

« د ښه خداي ثنا به وايم، چې نبيان يې په سړو يو كې

پيدا كړه، څكه نور مخلوق ئي واړه تر بزرگۍئي نه

رسيږي، د دوي سر آدم صفي وو او بيا آخر ئي

محمد قرئ شي وو، چې دا توغ د شفاعت يې هم په ده

باندي دريږي. » (د پښتونثر اته سوه كاله ۲۰۹ مخ)

د خواجه عبدالله انصاره مسجع نثر ژباړه په پښتو

«الهي! ډېر دي نږدې ښه ئي تر هغه لا نږدې يې، ښه ئي تا ليري
۶۶

خو تر ځان لا نږدې يې، د ځوانمردو په نفسو كي يې
د ذاكرانو په زړوكې ئي .اى څښتنه! ته هغه يې
څه چې دي پخپله ويلي او خرنګه چي دي ويلي هغه يې .

پاك له شرك او له هر عيب ئي ته، فرمان وركونكى

د شاهانو ئي ته، ګران او كبريا په لوړ تاج خو ئي ته،

دانړۍ ستا ده كامل اختيار لرې ته. الهي! نوم ستا

موږ ته روا، محبت ستا موږ ته دوا. پېژندنه ستا زموږ

ساتون، ستا لطف دى زموږ ښكاره غوښتون..

ژباړونكى محمد سرور وكيلي د خواجه عبدالله انصاري

مناجات ۱ او ۶م مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library



۶۷

د پښتو په ادب کښې کیسه

قصه یو عربي نوم دی، چې ماناي خبره، حکایت، داستان او نقل دی. په پښتو کښې ورته کیسه یانکل واي. کیسې خیالي او یا واقعي وي .

کیسه د پښتو په ادب کښې د اوږدې لیکني او یا لنډې لیکني له مخه ارزول کیږي . په کیسه کې یوازنی شی چې په نظر کې نیول کیږي هغه کرکتر یا د کیسې فیګور دی، چې پردغه کرکتر یا فیګور ټوله کیسه را څرخي.

څرنګه چې مو مخ کې وویل کیسه کېداي سي، چې خیالي، اندیښنه ئي، واقعي، او یا حقیقي وي .

کیسه کېداي سي، چې منظوم او یا منثور وي .

۶۸

کیسه کیدایسي، چې لنډه او یا اوږده وي .

کیسه کیدایسي، چې تراجیدي او یا کومیك وي .

د کیسې د فیګور مهال او ځائ د فیګور په پیښه پوري اړه لري. ټوله د کیسې نوري موضوعګاني د دغه فیګور پر خوا او شا را څرخي . د سارې یا بېلګي په توګه : د ادم خان او دورخانۍ کیسه .

دمؤمن جان او شېرښو کیسه .

(c) ketabton.com: The Digital Library



په عربو کې د ليلا مجنون کيسه .

په پاړسي کې د فرهاد شرين کيسه .

په الماني کې د روت کپشن کيسه .

په انګليسي کې د الادن کيسه او دغسې نور ډېر.

کيسه کيداي سي، چې سياسي، عشقي، ټولنيزه بڼه

ولرې . ښه کيسه هغه ده، چې بې پلوه اود ليکوال خپل

۶۹

خيال او انديښنه انځور کړي .

خو پدا کودتاګانو، پاخونونوکې او ډله ايز جنګونو کښې

ځينو ليکوالانو، اديبانو، فرهنګيانو او شاعرانو د ادب

کانون ته غاړه کښې نه ښوده چير ئې مات کړ په

ريکلامونو، ستاين ليکونو، پله ايز ليکونواوستاين ويلوئي

پيل وکړ، چې کيسو خپله طبعي او واقعي بڼه له لاسه

ورکړه او هم دغسې شاعرانو خپله ادبي ليارہ پرې

ښوده او د شعر او ادب مراعات ونکړ پربله خوا

روان سوه، ياني د ظلم او ستم مداحان سول.دغه ډول

اديبانو د فرهنګ غوره ليار ئي پريښودل مداحان

سول . هغه هم د چا؟ دظالمانو. خو دغه ډول کيسي او

شعرونه ټولنيز ارزښت نه لرې .

دپخوا کيسې عشقي د ميني ډکي کيسې دي او يا د

۷۰

زړه ورتيا او تاريخي کيسې دي .

(c) ketabton.com: The Digital Library



اوسنۍ کيسې تر ډېره حده د ليکوال په ټولنه کې د ده
خپل نوښت دی . دا خبره دلته يوه يادونه ده نيوکه نه
ده . کيسه تر ناول ړومبيوالی لري. کيسې له ډېر پخوا
نه به په مجلسو کښې کېدي، چې يوه به کيسه يا نکل
کاوه نورو به غوږ ورته نيولی وو. دغه نکل دهغو خلکو
تلوېزون او سنما وه. اوس د کيسو او ناول کتابونه
ليکل کيري، چې خلك يې په شوق لولي . نکل او رپوټ
يو شی وي او يوه مانا لرې . پخوا به خلکو ويل راسه
نکل وکه! څه خبره وه؟ يا واي : ده پرون نکل کاوه :
احمد له آسه غوزار سو. اوس خلك واي: راپور او يا
رپوټ ئي تېر کی او دغسي نور.

۷۱

رپورتاژ يا رپوټ( Reportage) دا يوه فرانسوي ګړه
ده، چې مانا يې خبر تېرول، د پيښې خبر ورکول يا
ګزارش ته واي. په پښتو کې ورته د پيښې خبرواي .
د رپوټ مهال ډېر نه وي تېر سوی، په يوه اونۍ
کښې بايد خبر تېر سوی وي . اکثرا په دغه مابين
کښې د پيښې خبر تېريري. رپوټ اتيا په سلو کې
واقعيت لري. که رپورتر لاس پکښې و وهي، نو يې د
خلکو لپاره په زړه پوري کوي. په دغسي پېښو کښې
کرکتر پخپله هغه شيان دي، چې واقعه پر پېښه سوې
وي، که دغه څو کرکترونه وي او که يو کرکتر وي .

(c) ketabton.com: The Digital Library



نوول یا ناول( Nauvelle) نوم دی فرانسوي ګړه ده،

مانا یې حکایت، داستان یا نوي خبرو ته واي .

په ناول کې کرکترونه یا فیګورونه ډېر وي او ځایونه او
۷۲

مهالونه ئي هم دغسي پکښې

مختلف وي .

دغه پورته توکي د ناول توپیردی ، د کیسي سر خو بیا هم ناول پخپله یو ډول اوږده کیسه ده . داستان یا کیسه په شعر کي . د ملنګ جان د یوه ځوان کیسه :

• یو سړی راته په دې صورت ګویا وو
چې نیکه قبر ته تللی هغه ځوان وو
• د جمعې په شپه دی ولاړی ادیرې ته
سرتور و درېده د خپل نیکه روضې ته
• خپل حاجت ئي سراسر ورته بیان کړ
په ژړا ژړا ئي ځان ورته ستومان کړ
• ډېر مجبور یم مجبورۍ نه نه خلاصېږم
څه سبب دی په سبب ئي نه پوهېږم

تر پایه :

متلونه او اصطلاحګاني

د اصطلاح او متل تر منځ توپیر:

متل یوه لنډه مسجع خبره یا شعر

دی . که چیري دغه
متل شعر وي شاعر ئي څرګند وي او که لنډه مسجع
خبره وي، نو ویونکی ئي تر ډېره څرګند نه وي .
متلونه د اولنو فلسفي د مانا ډکي خبري دي، چې په
ټول هېواد کې یې خلك پېژني او په پوهیري .
۷۳

او پر خپل سم ځائ ویل کیري . د هېواد په ټولو ښارونو
کې یو ډول په کار ځي . لکه : ګران به دي کړم، نه تر

زویه . بل متل : چې سر وي خولۍ ډېري دي. ــ پور دي

په پور منت دي په ګور. او دغسي نور ډېر. دغسي

متلونه د هېواد په ګوټ ګوټ کې دود لري او یو ډول

ویل کیري .

اصطلاح : اصطلاح هغه خبره ده، چې په یوه کلې یا یوه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښار کښې رواج ولري، برخلاف د متل چې په ټولو

ځايو کښې د يوه هېواد نه استعماليږي .

د بيلګي په توګه د کابل اصطلاح : واي : کابل دي بې

زرو وي خو نه بې واوري . « کابل بی زر باشد نه بی

برف ». دغه دوديزه خبره يوازي په کابل کې اصطلاح

ده. يا واي: «الو به از پلو.» يعني د کابل په ژمي کې

۷۴

تود کور تر پلو ښه دی . يا داچې

واي:« خبری سر

چوك». مانا دا د چارسو د سر خبره ده، څه واقيعت

نه لري. يا په کندهار کې واي :

« د اينځر ګل ئي. » مانا دا چې نه ښکارې. او يا په کابل کې دا خبره هم ډېره دود ده، چې وائي:

«ديگی شريکي را در چارسو بشکن.» دغه اصطلاح

ډېره د متل خوالري . ولي د دغي خبري په مقابل کې

متل هم سته، چې وائي: « شريکي خر شرموښان ئي

څيري ». پاي !

(c) ketabton.com: The Digital Library



اخځونه يا اخستنځي

د كتاب نوم ــ مؤلف يا ليكونكى ــ خپروونكى ــ دچاپ ځائ او كال

پټه خزانه محمدهوتك بن داؤد امام الدين ساپى ١٩٩٥ع
در او مرجان عبدالحميد ديوان ډاكټرسيدانورالحق يونيورسټي بګ اجنسي
كليات خوشحال خان خټك شير شاه ترخوي عظيم پيلشيك هاوس ١٩٨٥ع
رحمان بابا ديوان رحمان بابا پښتوټولنه دولتي مطبعه ١٣٥۶ هـ ش
فرهنګ عميد حسن عميد حسن عميد مؤسيسه انتشارات اميركبير ١٣۶٣
د الفت خبري ګل پاچا الفت ډاكټر عبدالرحمن الفت المان ١٣۶٧ هـ ش
د پښتو نثر اته سوه كاله زلمى هيواد مل يونيورسيټي لاهور ١٣٧۴ هـ
پښتانه د تاريخ په رڼا كې سيد بهادر شاه ظفركاكاخيل پيښوريونيورسيټي كراچي
افغان ملت اخباردموضوع ليكونكى محمدحسن كاكړ دګوندله خوا ١٣٧٢
د خواجه عبدالله انصاردمناجات ژباړه محمدسرورو‌كيلي ساپي خيړنې مرك ١٣٨٠
دافغانستان او د روسي د سياسي روابطو لنډه تاريخچه (١١٠۴ ــ ١٣٧١ هـ ش)
ليكونكى محمد ولي ځلمى د صحاف نشراتي مؤسيسه كراچي ١٣٧۴ هـ ش

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د ليکوال لنډه پېژندنه :

ښاغلي محمد سرور وکيلي باکلوريا دوره له کابل ميخانيکي لېسې، انيجنيري او ماستري يې په روزنپوهنه کي په المان کي اخستې ده او د ۱۹۸۲ ز کال نه تر اوسه پوري له خپلي کورنۍ سره په المان کښي ژوند تېروي .

د ښاغلي محمد سرور وکيلي په دې وروستيو کلونو کي ځو بېلابېل کتابونه ليکلي دي :

۱ : - پښتوبديع او بيان ، ۲ : - پښتو ژبښود (ګرامر) ، ۳: - پښتو ګړ ښود ( غياث الغت ) ، ۴ : - انتګرل او درنسيال حساب ، ۵ : - د جامداتو ميخانيک ، ۶ :- د خواجه عبدالله انصار مناجات له پاړسي نه په پښتومسجع نثر ژباړه ۷ :- ليکدود او ليکښود کړنلاره او سمه ليکنه دغه پورتني کتابونه ځيني په پېښور کي او ځيني په کابل کي چاپ سوي دي .

**يادونه :** د ښاغلي محمد سرور وکيلي دو کتابونو لکه بديع او بيان او پښتو ژبښود دانترناسيونال افغاني ژورنالستانو لخوا په سويس کي جايزه وړې ده .

د ښاغلي محمد سرور وکيلي ناچاپ کتابونه چي چاپ ته تيار دي :

۱:- اسلامي روزنه اوپوهنه ( په پښتو او الماني ژبو )، ۲:- د پښتو الپ او بې کتاب ، ۳:- پښتو متلونه ، ۴ :- د رياضي ۲۵۰ د طريقې سره حل سوي سوالونه ، ۵:- زما دشعرونو ټولګه ، ۶:- روزنپوهنه ، ۷:- د محمد رسول الله (ص) لنډه ژوند پېښه بديع او بيان د کلاسيک ياني د مقفه شعر پوهنه ده .د هر ډول شعر بيان له عروضوله مخي کوي .

پای

لراو بر افغانستان
www.larawbar.com

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**